آریانا افغانستان آنلاین

http://www.arianafghanistan.com

پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰٤/۲۳

# د ثور پینځمه؛ په افغانستان کې د مطبوعاتو د ورځې په مناسبت:

**مطبوعات، نوی فکری او د ټولنی معنوی شتمنی**


### لنډیز (Abstract)

مطبوعات، د اذهانو تنویر، فکري تولید ، د هنرمندانو ایجادیات، نوښتگر تخلیقات او دپوهانو او استادانو علمی آثار یا د پوهی صنعت هغه ارزښتمن آثار دی چی هغه له ذهني حالت څخه عیني حالت ته رااوښتی وی . دپوهنتونونو، څیړنیزو واحدونو، علمی مراکزو او دلابراتوارونو اختراعات او کشفیات اوصنعت هغه بشریت ته کټور ، ابتکاري او خپل ارزښت لرونکي ملکیتونه دي چې د قانوني حمایي وړ او د آزادی په لرلو سره را منځته کیږي. دغه ډول آثار د تفکر او نوښت محصول وی. د هنرمندانو بکر ایجادیات او نوښتگرانه علمی تخلیقی صنعت ، فکري تولید او پوهنیز آثار د اوږدي مودي خلاقانه تفکر ، تجربي او څیړني په پایله کې د استقلالیت د لرلو په شرط ټولني ته د معنوي ارزښتونو په توگه وړاندې کیږي . معمولاً دغه آثار او صنعت دوه ډولونه لري چې یو یې علمي، هنري او ادبي آثار دي چې د کتاب ، مقالي ، رسالي ، شعر او نورو په شکل عرضه کیږي او بل یې صنعتي او تجارتي ملکیتونه دي لکه فرمولونه ، لابراتوار ، تجربوي فارم، طرح او موډلونه . علمي – فکری او اکاډمیک استقلالیت ذهنی مشغولا، تجربی اومتفکرانه ریاضت ته دا هڅوونکی زمینه برابروي چې دغه ډول ابداعات، اختراعات، تألیفات او معنوي ارزښونه لازیات کړي او پراختیا ورکړي. ددی ټولو په رامنځته کولو کی تفکر او نوښت یا خلاقانه هڅی لومړنی شرط بلل کیږی.




### سریزه (Introduction)

له نیکه مرغه له اتلسو کلونو را هیسې په هیواد کي مطبوعاتو، دچاپ صنعت، د مجلو او اخبارونونشر او د درسی کتابونو خپرولو ته توجه شوی ده. دا سمه ده چي یوشمیر چاپي آثار مو معیارى نه وو ، یو شمیر نور دتعصب او افتراق په مرض اخته وو، خو بالعموم دتیرو ۱۸کلونو نشراتو زموږ دځوان نسل اذهان تر ډیره روښانه کړل. د دغو کلونو په مطبوعاتو کي له وطن سره مینه، ملی یووالی ته پاملرنه او اخلاقی جوهر او د عالی انسانی سجایاوو روزني



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ته کمه توجه وشوه، خو خبرتیایی اړخ یې قوی و. له بلې خوا د دغو مطبوعاتو له برکته ځوانان د نړۍ له نویو پرمختګونو څخه خبر شول. له دې سره یو ځای ځوانان وهڅیدل او ګوتې یې قلم ته وروړې، لیکلو ته یې پام وکړ او علمی هڅې ګړندۍ شوی دی. یو شمیر نوښتګر ځوانان په انترنیتی پاڼو، چاپی رسنیو، رادیوګانو او نورو عامه رسنیو کی نوی فکرونه بیانوی ، چی په هیواد کی د ویښتیا او مثبت بدلون نښه بلل کیدای شی.د دوی په هڅو او هاند مدنی خوځښت ګړندی شو . په دی لړ کي ګڼ شمېر کنفرانسونه او سیمینارونه دایر شول او څېړونی را میدان ته شوی، چي په هغو کي با تجربه استادانو ډیرې غوره مقالي درلودلي . یوه موضوع چي د خلاقیت او نوی فکر لپاره ضروري ده هغه د تفکر استقلالیت او دکیفیت ښه والی دی . دغه استقلالیت باید له تشکیلاتي پلوه ، له مادي پلوه او له علمي پلوه موجود وي . په ټولنو کي استقلالیت د هغوی د صنعت ، پوهي او معنوي شتمني د ودې ، غنا او کیفي بهبود لامل کیږي . له بلی خوا باید دغه نوښتونه، فکری تولید او نظریات په ټولنه کی خپاره شی. ددی تر څنګ به ډیره غوره وی چی کشفیاتو، اختراعاتو، فکری تولید، هنری ایجادیاتو او تخلیق ته مادی او معنوی هڅونه او مادی ملاتړ موجود وی. د دی ډول نویو فکرونو په پراخه کچه خپریدل او هڅول او د هغو مادی او معنوی ملاتړ په ټولنه کی د ترقی، کیفی او کمی تحول او فرهنګی تعالی ستن او قوت دی. له نیکه دولت تیرو ۱۸ کلونو کي دغي موخي ته لار هواره کړې وه، خو د دې بالمقابل مغرضو ګاونډیو پرله پسې، په تیره بیا له پنځو کلونو را دی خوا خپل ټول زور وواهه چي ښوونځي وسوځوي، ځوانان له تعلیم څخه محروم، تیاره او خرافات خپاره او د جنګ لمبې نورې هم پراخه کړي. نیابتی جګړه مارانو او د هغوی ملاتړو دافغانستان داسلامی جمهوریت د ولسمشر د سولې هڅو ته راز راز ستونزې پیدا کړی، د افغانستان دراتلونکی لپاره یی د دولت ډیرې عالی برنامی له خنډونو سره مخامخ کړې، خو ولسمشر د خپلې پیاوړې حوصلې او اکاډمیک عالی او لوړ ظرفیت له مخې ځوانانو ته جرات ورکړ، دوی ته یې موقع برابره کړه او د دوی طرحو ته یې غوږ ونیو، اوس دا دی ځوان کول د هیواد د راتلونکی لپاره خپل عالی افکار بیانوی . موږ هیله لرو چي زموږ ځوانان د فکری مالکیت لرونکی شي او د ثور له پنځمي وروسته د مطبوعاتو د ورځې په ویاړ په دغې موضوع فکر او بشپړه یوه اوني ور باندې بحث وکړو.

ډیر پخوا د فکري او علمي – فرهنګي آثارو خپرول ډیر محدود و او پخوا وختونو کي د هغو ایجادوونکو او مؤلفینو له خپلو آثارو څخه د کومې مادي ګټې هیله نه لرله . په هغو وختونو کي د هغو کوم قانوني ملاتړ هم نه و موجود او چا د *Intellectual property* یعني معنوي شتمني او *Intellectual property rights* په نوم څه نه پیژندل، خو نن ورځ د هغو قانوني ملاتړ کیږي او دا ټول د اکاډمیکو مقرراتو ، لوایحو او طرزالعملونو په اساس رامنځته شوي دي، بازار لري ، مالکیت (مال) ګڼل کیږي ، لړ وخت کي نورو هېوادونو ته خپریږي او د بشریت په خدمت کي واقع کیږي . په پرمختللو هېوادونو کي پوهنتونونه ، دځوانانوټولنی، مدنی بنستونه ، څیړنیز مراکز، تحقیقاتی ستیشنونه او لابراتوارونه په بشپړ ډول مؤلد دي، نو ځکه *(Product)* لري او آن دا چي دغو تولیداتو او محصولاتو د خپل تخصص کېدو له امله د خپل خاوند (پنځوونکی) د معیشت منبع جوړه کړې ده، نو ځکه ډیره ضروري ده چي مونږ هم بحث ورباندې وکړو .

***فکري مالکیت:***

د متفکرو او تخصص لرونکو افرادو هغه ایجادیات ، د کار حاصل او تخلیقات دي چي د خپلې کسبي پوهې، څېړنې او خلاقانه تفکر په اثر یې رامنځته کړی وي، فکری مالکیت دی، چي دوه ډولونه لري :

*الف)* هنري ، علمي او ادبي آثار لکه کتاب ، مقالي ، رسالې شعر او نور.

*ب )* صنعتي او تجارتي مالکيت لکه فرمولونه ، لابراتوار ، تجربوي فارم ، طرح موډلونه او نور.

ددغو فکری ملیکتونو خاوند د خپلو اثارو د ملکیت حق لری، چی دی ته ( copy right) ویل کیږی.

له دې امله چې دغه ډول پوهه او صنعت ته ضرورت دی او د بشري ژوند په ګټه دی ، نو ځکه يې مالک او ايجادګر ته يو شمېر حقوق ورکړل شوي دي لکه د طبع او نشر حق، بل چاته يې د تفويض کولو حق او داسې نور، نو له دې امله چې **حق** هغه اقتدار دی چې قانون يې وګړو ته وربښي نو ځکه يو څوک کولای شي چې ابداع او ايجاد وکړي، دا ځکه چې علمي ازادی د حق اساسي رکن دی.

له دې امله د علمي ، ادبي ، هنري ، صنعتي او نورو ابداعاتو ايجاد د هغو د منل شويو اخلاقو په رعايت سره د بشري ټولنې په ګټه دی ، نو ځکه ورته استقلاليت قايل شوی او ازادی يې هڅول کيږي.

په افغانستان کې ددی یوه ډيره غوره بیلګه دتیری لمریزی پیړی له څلويښتمو کلونو د شپيتمو کلونوتر پای پوری د نوی فکر دتشويقولو، دهنری او ادبی اثارو لپاره دجوايزو ورکول، د ځوانانو، روښاندو، هنرمندانو اوليکوالو اوشاعرانو د ټولنو او انجمنونو جوړول وو.

باید یادونه وشي چې په نړيواله کچه له ۱۸۸۴ م . کال راهیسې د علمي آثارو د ملاتړ لپاره هڅې رواني او دهغو د استقلاليت پېژندنه د مدني ارزښتونو په توګه په پام کې نيول شوې ده . د بيلګې په توګه د برن کنوانسيون ، د استهکلم کنوانسيون او دپاريس کنوانسيون. البته د دغه حق او معنوي صنعت په هکله په ۱۸۹۶ م . کې په پاريس کې ، ۱۹۰۸ م کې په برلين کې ، په ۱۹۱۴ م بيا د سويس په برن ، په ۱۹۲۸ م کې په روم کې ، په ۱۹۴۸ م کې په بروکسل کې په ۱۹۶۷ م کې يو ځل بيا په استهکلم کې او په ۱۹۷۱ م کې په پاريس کې بيا ځلي ورباندې کتنې وشوې. وروسته بيا يونسکو هم دغه استقلاليت او معنوي حقوق ومنل او ملاتړ يې وکړ ، خو ډيره مهمه خبره د مادي اړخ په پرتله د هغو معنوي ارزښت دی. په یوه ټولنه کی هغه استعدادونه او کادرونه چې علمي – هنري او ادبي، صنعتي، تجارتي، طبي او نور ارزښتونه رامنځته کوي د *Scientific Elites* یا علمي نخبګانو په نوم نومول شوي دي. دوی هغه بې تبعيضه د فکري خلاق ثمر لرونکی خلک دي چې د کار، کسب، سياست او اداري د نخبه ګانو په پرتله يې د خدمت او فعاليت ارزښت اوچت دی او معمولاً د نوی فکر خپروونکی ګڼل کيږی، چې د دوی د توليد او خلاقيت آثار د ټولنو د نن او سبا ورځې په نيکمرغي کې ټاکونکی رول لري. په دی وروستيو کی موږ د اوږدی مودی جګړی له امله د دغه ډول نخبه ګانو له کمښت سره مخامخ شوی يو او يا هم دوی په کاري چاپېر يال کې له ستونزو سره مخامخ دي او که ډير لږ شته هم په لازم دريځ کې نه دي ، حال دا چې په نخبه سالاري *Elitism* کې د علم ، پوهې ، اداري ، سياست اقتصاد او نورو ګټورو برخو معنوي کادرونه او د نوی فکر لرونکی او مستعدودماغونو لرونکودريځ او چت وي . په نخبه سالاری نظامونو کي د دغي خلاقانه او علمي ځواک آزادي او حقوق ډير اوچت، خوندي او ډاډمن دی او استقلاليت يې تأمين دی. يونسکو د مؤلف او څيرونکی حق او آزادي څه د مربوطه هېواد د ملي حقونو له مخې او څه هم د نړيوالو کنوانسيونونو د پريکړو له مخې يو طبيعي حق او استقلاليت بولي چې دغه طبيعي حق مجازه او مشروع آزادي لري او مؤلف ، دانشمند او مخترع د هغه د امتياز لرونکی کيږي چې قانون ورته ټاکلی دی. دغه امتيازات د نورو ساحاتو مثلاً د کارګر يا بل چا په پرتله توپير لري او هغه دا دی چې دوی د مادي او معنوي امتياز حقونو له ترکيب څخه برخمن دي .

د مؤلف ، ليکوال او څيرونکي مالي حق يواځې د مؤلف د لګښتونو او زيار ګاللو جبران کول نه دي ، بلکې د علم ، پوهې او فرهنګ د لا زياتې پرمختيا لپاره د لارې هوارول دي. چې دغه دريځ نور هم د آزادي او استقلاليت لرلو په معنا تعبير کيږي . له بلې خوا د پوهانو له شخصيت سره د دوی تأليفات ټينګې اړيکي لري . د هغو روابطو د شتون له امله د دوی د کار حقوق يوه بله جداګانه بڼه غوره کوي ، دا ځکه چې پورته ذکر شوي اړيکي د دې مانع ګرځي چې د مؤلف او عالم د حقوقو په هکله مقررات د کار له حقوقو سره توپير لرونکي شي . د فرانسې د نامتو پروفيسور هانري ديبا په نظر دغه عامل هم د دې لامل کيږي چې دانشمند او عالم هم د خپل وخت ، د خپل پوهنيز اثر او دخپلو ابداعاتو په هکله د آزادي احساس وکړي.

د استادانو، ليکوالو، مؤلفينو، مخترعانو او دفرمولونو د استخراج کوونکو علمي آثار او پنځونې هغه وخت دقانوني حمايې او ملاتړ وړ ګرځي چې له له ذهني حالت څخه عيني حالت ته واوړي او ابتکاري اصيل او بشريت ته ګټور وي او دا ډول آثار دبيې لرونکي وي.

تصنيف، تأليف، ترجمه او تخليص په ټولنه کې د پوهې د خپرولو او بشريت ته د معنوي خدمت مهم وسايل دي . همدارنګه اختراعات دبشريت د ژوند د ستونزو د حل لپاره د نويو لارو موندل دي . دا دتکنالوژي په برخه کې د پوهانو د مفکورې عملي لاره ده. دا د پرمختللو تکنيکي مفکورو له لارې د طبيعت د قانون تر استفادې لاندې راوستل دي چې په اختراع کې فني او تخنيکي اړخ مهم دی . په قوانينو کې د حق الاختراع تسجيل کېدل دي او د مخترع هڅونه او مالي ملاتړ په خپله د پوهنتونونو او علمي مرکزونو هڅونه ده تر څو دوی په آزادانه توګه په دې لاره کې لازياتې هلې ځلې وکړي.

آيا د صنعت او پوهې بازار د کوم ډول استقلاليت پايله ده ؟ د علمي صنعت ، پوهنيزو او اکاډميکو آزاديو ډول او فرهنګي او معنوي حقوقی آزادي په مدني آزاديو کې شمېرل کيږي ، چې دا په خپله او چت ارزښت لري چې د يوې ديموکراتيکې ټولنې د خوځنده ژوند يوه برخه ده . له نېکه مرغه د علمي او اکاډميکو آثارو د رامنځته کېدو آزادي د رنسانس له دورې څخه راوروسته تقريباً په هر ډول سياسي نظامونو کې وه ، آن دا چې تر ټولو دکتاتورو نظامونو چې هلته سياسي آزادي ته اجازه نه وه ، هم ورته اجازه ورکړشو ی وه . دا شرط نه ده چې هر فکري توليد دې په بشپړه توګه نوی وي ، دا ځکه چې هر فکري توليد خامخا له پخوانيو علمي ميراثونو سره تړاو لري ، يعني نوښت يکي نسبي بڼه لري . موږ به دلته د دغې پراخې موضوع د نورو اړخونو په پرتله د نوی فکر او فکری توليد برخی باندی تمرکز وکړو:

*فکري توليد دوه ځانګړتياوې لري*

١. د خپل پنځګر ، مؤلف او خاوند له شخصيت سره تړلتيا لري (يعني د ونې يا بوټي د هغې مېوې په شان نه دی چې کله له ونې څخه را جلا شي، بيا نو دخپل ښاخ او بوټي سره هيڅ رابطه ونلري). دغه آثار د خپل پنځوونکی د علمي شخصيت يو هېنداره ده.

٢. د فکري توليد ريښه معنوي ده ، اما د مستقل وجود بڼه غوره کوي، يعني دا د پوهانو او دانشمندانو د تفکر، تجربې او څېړنې هغه لاسته راوړنه ده چې په پای کې صوري بڼه مومي او په فزيکي توليد اوړي لکه کتاب، تخنيکي وسايل، درمل، ماشين، ډيزاينونه او نور. له فقهي پلوه دغه ډول محصولات او فکري توليدات د ماليت بڼه لري او دعين او

مال په توګه يې ګټه مشروع ده. په پرمختللو هېوادونو کې د اختراع، علمي صنعت او معنوي ارزښتونو د ملاتړ قوانين شته او د آثارو د ثبت، د کتابونو د چاپ او تکثير او اختراع او د علايمو لپاره طرزالعملونه لري.
د بيلابيلو ټولنو او هيوادونو د صنعت او پوهې په پراختيا او د هېوادونو تر منځ د هغو د تبادلې په برخه کې د يونسکو سازمان ځانګړی دريځ لري ، دا نه يوازې پرمختللو هېوادو کې ، بلکې د آسيا ، افريقا او لاتيني امريکا د هېوادونو علمي مرکزونو ته يې هم پاملرنه کړې ده چې افغانستان يې په ۱۹۴۸ م کال کې غړيتوب ترلاسه کړی دی، علمي څېړنو ښودلې ده چې تر اوسه پورې په سلو کې ۹۵ د پوهې او صنعت بازار د نړۍ په سلو کې ۳۰ هېوادونو پورې اړه لري ، حال دا چې وروسته پاتې هېوادونه په دې برخه کې لږ ونډه لري. پرمختللي صنعتي هېوادونه لکه د امريکې متحده آيالات ، انګلستان ، روسيه ، جاپان ، او يو شمېر نور د خپلې ملي بودجې په سلو کې ۶۰ څخه زياته برخه علمي څېړنې او دصنعت او پوهې توليد ته وقف کوي ، حال دا چې زموږ په شان وروسته پاتې هېوادونه دې برخه کې له بشپړې بيوزلۍ سره مخامخ دي.
له نېکه مرغه موږ اوسنی حالت کې ، په دې برخه کې کوم سانسور او ممانعت سره نه يو مخامخ، اما بايد صادقانه اعتراف وشي چې ځينې وخت د ذات البيني تضادونو ، شخصي کينې او نورو لاملونو له کبله ځينی وخت مثبت نوی او رغنده فکر، مترقی طرحې او يا هم علمي مفيد تصنيف ځينو ستونزو سره مخامخ کيږي او د تشويق پرځای خنډونه ورته جوړيږي . حال دا چې دا ډول عمل زموږ په نوی فکر او معنوی توليدی پروسه باندی بده اغېزه کوي.

## ***نتيجه:***

فکري او علمي ايجاديات د ټولنې د نيکمرغي او ديوه ملت معنوي غنا ښکاره کوي . نوی فکر له تيارو او ناپوهی، تعصب، افراطيت، تاو- تريخوالی ، فتاليزم او تحجر سره نه پخلا کيدونکی، خو د انسانيت په خدمت کی دی او د ټولنی د ترقی او تعالی متضمن دی. د نن ورځې اقتصادي ، اجتماعي ترقيات په علمي ډګر کې د استقلاليت او د هغو د هڅونې له امله دي. له نېکه مرغه موږ دغه مسئله اوس د خپل کار په اجندا شامله کړې ده . د نوی فکر نوی پيل شوی هڅی او د ويښتابه د پراو يو شمير نښې چې نوی را څرګندی شوی دی، ددی ادعا ثابتوونکی دی.

## ***وړانديزونه:***

۱. لکه چې وويل شول موږ ټولنيزی ترقی او پرمختګ ته اړتيا ، بايد د صنعت او پوهې د بازار لپاره خپل وخت او انرژي وقف کړو له بلې خوا تمه کيږي چې د ورځنی فعاليت ترڅنګ بايد يوه کافي اندازه وخت د دې موخې لپاره وټاکل شي .
۲. د علم سالاری د پياوړتيا لپاره هلې ځلې زموږ وجيبه ده.
۳. د معنوی ايجادياتو او د علم او پوهی د صنعت امتيازات د کار له نورو برخو سره توپير لري ، نبايد له دغه امتياز څخه ناوړه استفاده وشي، د دی پرځای د نوښتګر تفکر تخويف، تهديد، د هغه د انرژی او وخت تحديد او داسی نور منفی علايم بايد محو شی.
۴. موږ په دې برخه کې ډير غوره تجارب او تجربه لرونکی استادان لرو دځوانانو ته پکار ده چې د هغو درناوی وکړي او دهعوی له تجاربو ګټه واخلی او خپل تجارب روباندی بدای کړي .

۵. د مثبت، رغوونکی، خلاق او د انسان په خدمت کی دنوی فکر هڅونه د ی د اړونده مراجعو لومړی مسولیت وګڼل شی.

۶. ډیره ضروری ده چې منحرف، ملی وفاق ته زیان اړوونکی، دپردیو د ګټو ساتونکی او مبتذل نشرات اومطبوعات ډیر ژر اصلاح او مخنیوی یې وکړ،

۷. دکاپی رایت دحق درناوی دی وشی، دتقلید مخنیوی او دنوښت هڅونه، نوی فکر ته لاره هواروی، دی ټکی ته دټولو پاملرنه حتمی ده.

۸.ځوانان باید مطبوعاتو کې ګډون او مطالعی ته وهڅول شی.

۹.دمطبوعاتو پلوشې باید له ښارونو څخه تر کلیو پورې خپرې شی او کلیوالی لرې پرتې سیمې د مطبوعاتو په مرسته د جګړه مارو، تیاره افکارو، جهالت او نفاق له وحشت څخه وژغورل شي.


تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!


د ثور پینځمه؛ په افغانستان کې دمطبوعاتو دورځې په مناسبت
dodiaal_m_b_de_saor_penzoma_de_matboato_wraz.pdf